# أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الْخَطَايَا، وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الْخَطَايَا، وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟» قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ، وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ، وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ، فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ». "آيا زه تاسو ته هغه څه ونه ښايم چې په دې سره الله تعالی ګناهونه له منځه وړي او درجې لوړوي؟» هغوی وويل: هو، اې د الله رسوله: هغه وفرمايل: «په سختيو کې اودس بشپړول او جوماتونو ته زيات قدمونه اخيستل او له يو لمانځه وروسته بل لمانځه ته انتظار کول، نو همدا د الله په لار کې وتل دي».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپلو اصحابو څخه وپوښتل چې آيا دوی غواړي د داسې اعمالو لارښوونه ورته وکړي چې د ګناهونو د بخښنې لامل ګرځي، او د پرېښتو له کتابونو څخه پاکيږي او په جنت کې د مرتبو د لوړېدو لامل ګرځي. صحابه کرامو وويل: هو، مور همدا غواړو. هغه وفرمايل: لومړی: په سخت سره اودس کول او بشپړول. لکه سړه هوا، د اوبو کموالی، د بدن درد، او ګرمې اوبه. دويم: ډېر قدمونه وهل - د دوو پښو تر منځه واټن - له کور څخه لرې جوماتونو ته تلل، او دا کار ډېر تکرارول. دريم: د لمانځه د وخت انتظار کول، له هغه سره زړه تړل، لمانځه ته تيارى نيول او په جومات کې د جماعت د ادا کولو انتظار کول، نو کله چې لمونځ ادا کړي، د لمانځه په ځای کې بل لمانځه ته انتظار باسي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم په ډاګه کړه چې دا درې کارونه په حقيقت همدا د الله په لار کې وتل دي؛ ځکه چې دا په نفس د شيطان لارې بندوي، خواهشات ماتوي او د وسوسو مخه نيسي، نو په دې توګه د الله ډله د شيطان لښکرو ته ماته ورکړي او همدا تر ټولو لوی جهاد دی، او دا دښمن ته په پولو د ودرېدلو په څېر دي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3574